## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

### د ۱۴۴۴ هـ.ق کال، د شوال میاشتې د رارسیدو اعلان او د کوچني اختر مبارکي

(ژباړه)

**الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الاالله والله اکبر، الله اکبر و لله الحمد**

بسم الله الرحمن الرحيم. الحمد لله رب العالمين، والصلاة و السلام على اشرف الانبياء والمرسلين مولانا محمد و على آله و اصحابه اجمعين

بخاري په خپل صحيح کې له محمد بن زياد څخه روايت کړی چې وايي: ما له ابو هريره رضی الله تعالی عنه څخه اوريدلي چې وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل، يا ابو القاسم رضی الله تعالی عنه وفرمايل:

**«صوموا لِرُؤيتِهِ وأَفْطِرُوا لرؤيتِهِ فإنْ غُـبِّيَ عليكم فَعُدُّوا ثَلَاثِينَ»**

**ژباړه:** *«د میاشتې په لیدو سره روژه ونیسئ او د میاشتې په لیدو یې ماته کړئ او که اسمان وریځ و، دېرش ورځې پوره کړئ.»*

**د جمعې په سپېڅلې شپه کې د شوال د نوې میاشتې له پلټلو وروسته په ځینو اسلامي خاورو کې له شرعي شرايطو سره سم د شوال میاشتې لیدل تایید شوي؛ نو سبا جمعه د شوال میاشتې لومړۍ نېټه او د نیکمرغه کوچني اختر لومړۍ ورځ ده.**

حزب التحرير د کوچني اختر په مناسبت ټول اسلامي امت ته د زړه له تله مبارکي وايي او له الله سبحانه و تعالی څخه غواړي چې راتلونکی کال اختر په داسې حال کې راشي چې د الله سبحانه و تعالی نظام تاسيس شوی وي؛ دين يې حاکم او بيرغ يې رپاند وي. دغه راز د ځان، د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر رييس، او ټولو هغو ورونړه او خويندو له لوري چې په ادارو او څانګو کې يې د حزب التحرير له امير، جليل القدر عالم شيخ عطأ بن خليل ابوالرشته حفظه الله سره پر کار بوخت دي، ټولو ته د کوچني اختر مبارکي وايم او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې زموږ امير ته د پيغمبر صلي الله عليه وسلم د زېري، د نبوت پر منهج د دويم راشده خلافت د تاسيس لپاره د دغه دعوت په رهبرۍ کې توفيق ورکړي.

يوه ډېره ښايسته صحنه چې يو انسان يې ليدلی شي، دا ده چې مسلمانان د اختر له لمانځه وروسته سره راټولېږي او يو بل ته لاسونه ورکوي، څېرې يې په امېد او ډاډ ځلېږي او د ماشومانو خوښي يې دا فضا نوره هم له خوښيو

ډکوي. کوچنی اختر نه یوازې دا چې د مسلمانانو لپاره یو کلنی جشن دی، بلکې د رېښتینې خوښۍ او نېکمرغۍ تاریخ دی، چې د ورځې له خوا د روژې او د شپې له خوا قیام تر هڅو وروسته هغه څه ته رسېږي، چې الله سبحانه وتعالی پرې خوشاله کېږي. له ابو هریرة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: كُلُّ عَمَلِ ابْنِ آدَمَ لَهُ إِلَّا الصِّيَامَ، هُوَ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ»**

**ژباړه:** *«الله عز وجل فرمایي: له روژې پرته، د انسان هر عمل د خپل ځان لپاره دی. روژه زما لپاره ده او زه یې اجر ورکوم.»* په اسلام کې د مسلمانانو لپاره د دغې خوښۍ مفهوم بېل خوند لري.

نن ورځ بشریت هغې هوساینې ته سخته اړتیا لري، چې اسلامي نظام یې نه یوازې د اختر په ورځو کې، بلکې د ژوند په ټول برخو کې له ځان سره راوړي. کافر ښکېلاکګر غرب خپل او د نړۍ خلک په سیمه‌ایزو او نړیوالو جګړو، اقتصادي او ان روغتیایي ناورینونو ستړي کړي دي. غرب د سرچینو د انحصار لپاره د خلکو بدمرغي د هدف او له ژوند څخه د دین بېلوالی د یوې عقیدې په توګه غوره کړې ده. په دې توګه یې انسان له انساني ژوند او هوساینې بې برخې کړی. نو (د خلکو) ژوند په شهواتو کې په ساه اخیستو، یوه لمړۍ ډوډۍ پسې په منډو وهلو او له جګړې او ځورونې څخه په تښتېدلو بدل شوی دی. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكاً﴾**

**ژباړه:** *«او څوک چې زما له ذکر څخه مخ واړوي، د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو.»* [طه: ۱۲۴]

**اې مسلمانانو!**

د اسلام پیغام ستاسو پر اوږو یو مسولیت دی، د الله سبحانه و تعالی له لوري وجیبه ده او زموږ د پېشوا، پیغمبر صلی الله علیه وسلم میراث دی؛ ټول یې باید تر نړیوالو ورسوو. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً﴾**

**ژباړه:** *«او په همدې ډول موږ یو امت وسط (غوره امت) ګرځولي یاست چې تاسو پر نړیوالو شاهدان او پیغمبر پر تاسو شاهد واوسي.»* [بقرة: ۱۴۳]

نو دا بې انصافي ده چې په دې نړۍ کې اسلام پلی نه شي. د دولت تاسیسېدو سره به اسلامي امت د خپلو ټولو دورو په څېر د بشریت پناه‌ځای وګرځي او ټول مستضعفان به پناه ورورړي. په نړۍ کې به عدالت او اسلامي نظام

وي او كه د خدای خوښه وه، تر هغه به همداسې پاتې شي چې مسلمانان ټوله نړۍ فتح او اسلام پکې خپور کړي.

**اې مسلمانانو، اې د ځواک او ملاتړ اهله!**

دا د بشريت په حق کې ستر ظلم دی چې په ژوند کې يې اسلام نه پلی کېږيي. پانګوال نظام پر خلکو خپل کار وکړ او د خلافت تر سيوري لاندې اسلامي امت پرته، څوک نشته چې نړۍ له دغې بلا او سختې ناروغۍ خلاصه کړي. هغه خلافت چې يو وخت سياسي ځواک و او د نړۍ چارې يې پرمخ وړې. نن بيا هم اسلامي امت چمتو دی چې همغه امت شي؛ د خلافت پروژه د جليل القدر عالم، شيخ عطأ بن خليل ابو رشته په رهبرۍ د حزب التحرير په لاسونو چمتو ده او د حزب التحرير غړي د اسلامي امت د ښارونو په مرکزونو او ټوله نړۍ کې ورسره دي. ستاسو امت، چې کورونه يې ويجاړ شوي، وينې يې تويې شوې او عزت او حرمت يې تر پښو لاندې شوی، له تاسو غواړي چې له ظالمانو يې وژغورئ.

حزب التحرير له خپل روښانه فکر او د خلافت له پلان سره د خپلو غړو په استقامت د هغو ناوړه حاکمانو پر وړاندې ولاړ دی، چې تاسو يې د کمزوري او بيچاره حکومت پروړاندې چوپ يئ. نو ايا د هغه ځواب ورکولی شئ؟ اې د اسلامي امت سرتېرو، الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ آوَواْ وَّنَصَرُواْ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقّاً لَّهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾

**ژباړه:** «کومو خلکو چې ايمان راوړ او د الله تعالی په لاره کې يې هجرت او جهاد وکړ او کوم خلکو چې پناه ورکړه او مرسته يې وکړه همدوی رښتيني مومنان دي. د هغو لپاره بښنه او ډېره ښه روزي ده.» [انفال: ۷۴]

الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، لا اله الاالله والله اکبر، الله اکبر و لله الحمد

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته – اختر مو مبارک شه

د جمعې شپه – د ۱۴۴۴هـ.ق کال د شوال مياشتې لومړۍ نېټه چې د ۲۰۲۳م کال د اپرېل له ۲۱مې سره سمون خوري.

انجنير صلاح الدين عضاضه

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر

د شوال ۱ کال، ۱۴۴۴هـ.ق

د اپرېل ۲۱مه کال، ۲۰۲۳م

د صدور گڼه: ۳۴/ ۱۴۴۱

ژباړه: فریدون محتاط